ISSN(**P**): 2709-9636 | ISSN(**O**): 2709-9644
**Volume 7, Issue 1, (Jan to Feb 2026)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2026(7-I)urdu-02

ماخذ تحقیقی مجلہ

OPEN ACCESS

CC BY NC

**نگینہ بی بی**

پی ایچ ڈی (پشتو) ریسرچ سکالر پختونخوا مطالعاتی مرکز، باچا خان یونیورسٹی چارسدہ

**ڈاکٹر فقیر محمد**

لیکچرر، پختونخوا مطالعاتی مرکز، باچا خان یونیورسٹی چارسدہ

# د نورالامین یوسفزي په افسانو کښې د پښتنې سلبي اقدارو تجزیاتي مطالعه

**Nagina Bibi ***
PhD (Pashto) Scholar, Pakhtunkhwa Study Center, Bacha Khan University Charsadda.
**Dr. Faqir Muhammad**
Lecturer, Pakhtunkhwa Study Center, Bacha Khan University Charsadda
***Corresponding Author:** nagina@awkum.edu.pk

## A critique of the negative values in the Pashtun society in the short stories of Noor ul Amin Yousafzai

This study offers a scholarly analysis of negative values embedded in Pashtunwali, the unwritten Pashtun code of life, as depicted in the short stories of renowned Pashtun writer Noorul Amin Yousafzai. Pashtunwali is defined as a comprehensive, enduring system of social, cultural, and moral norms that regulate Pashtun communal life, encompassing both positive ideals (e.g., hospitality, honor, justice) and negative elements that often lead to societal harm. The study highlight several key negative values like Badal, (Revenge or retribution, perpetuating cycles of violence and feuds), Swarah (offering girl as compensation to end enmity), Peghor (the demand for revenge, often generational), Barmata (capturing other resources to obtain benefits) and Gondi ao Para (partisanship in conflicts). These values are contrasted with positive principles but critiqued for causing social discord, violence, generational trauma, and stagnation,

ISSN(**P**): 2709-9636 | ISSN(**O**): 2709-9644
**Volume 7, Issue 1, (Jan to Feb 2026)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2026(7-I)urdu-02



often conflicting with modern ethics and Islamic values. Through detailed examination of Noor ul Amin Yousafzai's short stories, the study illustrates how these narratives portray destructive behaviors, internal human struggles, exploitation, and the need for societal reform. It is concluded that his short stories served as a mirror to Pashtun society, advocating peaceful evolution of Pashtunwali to prioritize harmony, justice, and progress while preserving cultural essence.

**Key Words:** *Pashtunwali, Negative values, Pashtun Society, Badal, Peghor, Swara.*

پښتونولي د پښتون قام د ژوند ژواک هغه نالیکلے دستور او ائین دے چې دوي وربانديې خپل ژوند ژواک تېروي دا هغه نظام دے د کوم د لاندې چې دوي خپل ژوند ژواک ، غم ښادي ، مړے ژوند او دغه رنګ خپل کلهم سماجي او معاشرتي ژوند تېروي پښتونولي چونکې د پښتنو د سماجي ژوند دستور دے په دا وجه کله پښتونولی دپاره د دوي د مورنی ژبې پښتو کلمه هم استعمال کړے شي لکه د مثال په توګه مونږ په امروزه ژوند کښې دا خبره کوو چې فلانے ډېر بې پښتو سړے دے یا ما سره ئې ډېر بې پښتو کار اوکړو مطلب دا چې داسې کار ئې اوکړو چې د پښتونولی د ضابطې خلاف کار وو یا ورته په پښتنه ټولنه کښې بد کتلے کېږي.

د پښتونولی د تعریف په حقله نورالامین یوسفزے وائي.

> „ پښتونولي یو داسې جامع ترکیب دے چې په سینه کښې ئې د پښتنو د کلتوري او ټولنیزو ادارو او قدرونو یوه دنیا اباده ده یوه داسې قاعده او قانون دے چې د زرګونو کالو هم د دې ضابطې او نظام لاندې پښتانه خپل ټولنیز ژوند د تېروي د دودونو ، دستورونو او رواجونو دا مضبوط او کوټلے نظام د زرګونو کالو راهسې د

ISSN(**P**): 2709-9636 | ISSN(**O**): 2709-9644
**Volume 7, Issue 1, (Jan to Feb 2026)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2026(7-I)urdu-02

ماخذ تحقیقی مجلہ

دوي د ژوند نرخ او ضابطه هم ده او
د ژوند ژواک عمراني طريقه او سليقه
هم کوم چې لکه د برطانيې د دستور د
کاغذ په څائے د دې قام په سينو
ليکلے شوے دے کله چې د پښتنو په
ګاونډ د وحشت اور وو ټول ګاونډي
قامونه لا د وحشت په غېږ کښې د
کلتور په لټون ورسره وو نو هم دې
قام څخه دا ضابطه او دا نظام موجود
وو،،1

مطلب دا چې کله د نړی نور قامونه د تهذيب و تمدن څخه نا خبره وو نو پښتانه هغه وخت د يو داسي ټولنيز قانون څښتنان وو چې د دوي په کلهم ژوند ژواک باندې محيط وو.

د پښتونولی په حقله سحر ګل کتوزے خپل خيالات څه په دا رنګ قلم ته سپاري.

,,پښتونولي د داسي اصولو،
رسمونو او رواياتو مجموعه
ده د کومو لاندني چې د
پښتون قام د ژوند معاملات
چلېږي ،2

يعني هغه ټول اصول او قواعد ضوابط چې د هغې لاندې پښتون قام خپل ټولنيز ژوند تېروي هغې ته پښتونولي وئيلے شي.

د پښتونولی د تعريف په حقله ستر محقق راج ولي شاه خټک وائي.

,,پښتونولي د پښتنو د ژوند
ژواک نظام دے دې ته د پښتنو
کلتور يا ثقافت هم وئيلے شي
ولې د پښتونولی اصطلاح په
خپلو معنو کښې له دغه بين
المللي اصطلاحاتو نه څه زياته
پراختيا لري

ISSN(**P**): 2709-9636 | ISSN(**O**): 2709-9644
**Volume 7, Issue 1, (Jan to Feb 2026)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2026(7-I)urdu-02



... ... د پښتونولی اصطلاح د پښتون نه راوتلي ده او د پښتون د اصطلاح بنیاد کېښوده پښتو د پښتون قام ژبه ده او د ژوند لاره هم د پښتو د فلسفي خپل رنګ او مفهوم دے دا فلسفه د همه ګیر پښتون ژوند احاطه کوي د پښتنو په مادي ژوند کښې خو پښتو په هر اړخ کښې وي خو ولې روحاني ژوند او عقیدې هم اکثرې د پښتو په بنیاد ولاړې وي اسلام د پښتنو دین دے ولې دین د پښتو سره داسې ګډ کړے شوے دے چې که پښتو نۀ پاتې کېږي نو د دین کارونو ته ئې هم زیان رسي ،،3

اقدار د قدر جمعه ده چې مراد ترې هغه ټولنیز او کلتوري ضوابط دي چې د یوې ټولنې له خوا د ژوند ژواک کولو دپاره وضع کړے شوي دي.

هغه اصول چې پښتانه ئې د خپل ټولنیز جوړښت بنسټ بولي او هم دغه پښتني اقدار چې کله راپو ځائے شي او کوم قانون او دستور ته دوام ورکوي هم دغې ته پښتونولي وئیلے شي په دې اقدارو کښې هم لکه د کائنات د نورو څیزونو په څېر دوه قسمونه په نظر راځي چې یو ته ایجابي او بل ته سلبي اقدار وئیلے شي.

ایجابي اقدار هغه اقدار هغه وي چې په ټولنه کښې د خېرخواهي سوکالۍ او پرمختګ ضامن وي د پښتني اقدارو دا لاندې ورکړے شوي اقدار مونږ د ایجابي اقدارو په توګه وړاندې کولے شو.

١. جرګه
٢. ننواتې
٣. تیګه
٤. اشر
٥. پناه ورکول

ISSN(**P**): 2709-9636 | ISSN(**O**): 2709-9644
**Volume 7, Issue 1, (Jan to Feb 2026)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2026(7-I)urdu-02
ماخذ تحقیقی مجلہ

٦. بدرګه

سلبي اقدارو نه مراد هغه قدرونه دي چې په پښتنه ټولنه کښې ورته په بد نظر کتلے شي او خلق ورځني کرکه کوي دا هغه اقدار دي د کوم په وجه چې په پښتون سماج کښې انتشار پېدا کېږي او د دغه انتشار په نتيجه کښې چې دوي او د دوي ټولنه د کوم زيان سره مخ کېږي هغه نا قابل تلافي او يو نۀ سر کېدونکے زيان دے د دې په وجه نور خلق هم د دوي د ثقافت څخه ډارېږي او پښتون قام ته د وحشي نوم ورکوي چې يو داسې نوم دے چې په خپله ګېډه کښې د دنيا ټولې بدرنګۍ ځائے کوي.

دا سلبي او ناخوښه اقدار که هر څو پښتانه د خپل ټولنيز ژوند يو اهم توکے ګڼي خو ولې د دوي د لامل سره چې په پښتنه ټولنه کښې کوم انتشار راولاړېږي د هغې نه په هيڅ ډول انکار نۀ شي کيدے او که څوک ئې کوي هم نو د لېونې خوب به وي ځکه چې د سلبي اقدار چې کوم وګړي خپل کړي نو هغه د يو ناخوښه فعل ارتکاب کوي چې په دغه وجه دغه کردار ته سلبي کردار وئيلے کېږي او دغه سلبي کردارونه په خپل ناخوښه عملونو سره ټولنه د يو لوے تاوان سره مخ کوي د دې سلبي کردارونو په حقله سفير الله خان وائي.

„یہ وہ شخصیت ہوتی ہے جس میں کوئی بھی رد عمل پر اور سماج کے متعین کردہ دائروں سے
باہر ہو یا مقرر کردہ معیار کے مطابق نہ ہو یعنی رد عمل پر دہ اور سماج کے متعین کردہ طریقہ
کار کے خلاف منفی اور غیر محتاط ہونے کے ساتھ ساتھ انتہا پسندانہ ہو،،4

هر څو که په بره حواله کښې د سلبي کردارونو عکس په نظر راځي خو ولې يوه نقطه په کښې داسې هم ده چې تنقيد ته لاره هواروي هغه دا چې موصوف سلبي کردارونه هغه کردارونو ته وائي چې د سماجي ژوند د وضع کړے شوي قوانينو خلاف وي اوس که مونږ اوګورو نو په پښتنه ټولنه کښې داسې قوانين هم شته چې د پښتون قام له

ISSN(**P**): 2709-9636 | ISSN(**O**): 2709-9644
**Volume 7, Issue 1, (Jan to Feb 2026)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2026(7-I)urdu-02
ماخذ تحقیقی مجلہ

خوا وضع شوي دي او د هغې په وړاندې سر ټيټي کول غوره ګڼي خو هغه بيا هم د ټولنې دپاره زيان مند دي لکه بدل هر پښتون اخلي او دا خبره د دوي د ناليکلي ائين يا دستور برخه ده خو ولې په ټولنه کښې انتشار ته لاره هواروي نو په دا وجه دا سلبي دي په دې اساس دغه ذکر شوے تعريف جامع نه ښکاري نو که چرې مونږ د سلبي کردارونو يو جامع او مناسب تعريف کوو نو هغه به دا وي چې هر هغه فعل چې د ټولنې د بربادئ او په وروستيو پاتې کېدو کښې خپله ونډه اچوي نو دغه سلبي کردار دے خوا کۀ دغه عمل ته په ټولنه کښې په ښه نظر کتلے شي او که په برخو چې انجام ئې د ټولنيز زيان لامل وي نو هم دغه عمل سلبي او شېطاني دے او داسې عمل کونکي د سلبي کردار په نوم يادول غوره دي.

پښتونولي که هر څو د دنيا د نورو تهذيبونو نه ډېر پراخه او د ژوند ژواک دپاره يوه ښکلې تګ لاره ده خو ولې پښتونولي د دغه ښکلا سره سره څه بدرنګئ هم لري چې د پښتنې ټولنې د بربادئ پوره پوره ذمه داره ده دغه اقدار چې د پښتنې ټولنې د امن او سکون دشمن دے او د دوي ټولنه ئې اکثر په وروستو بوتلې ده په هغې کښې دا لاندې ذکر شوي اقدار د مثال په توګه وړاندې کولے شو.

١. بدل
٢. پېغور
٣. سوره
٤. برمته
٥. ګوندي او پره

د دې نه علاوه نور هم داسې اقدار شته چې د ټولنې په زيان تمامېږي اکثر په کښې داسې هم دي چې د پښتنو مشرانو د يو مثبت سوچ د لاندې وضع کړې دي خو نن سبا ئې د غلطو پښتنو له خوا منفي حيثيت خپل کړے دے لکه سوره د دشمنئ د

ISSN(**P**): 2709-9636 | ISSN(**O**): 2709-9644
**Volume 7, Issue 1, (Jan to Feb 2026)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2026(7-I)urdu-02

ماخذ تحقیقی مجلہ

ختمېدو دپاره په وجود کښې راغلي خو خلق بیا د هغه جینې سره ظلم زیاتے کوي ګوندي او پره د بهرني دشمن په مقابل کښې خپله ډله جوړول وو خو ولې اوس اکثر پښتانه خېلونه هم دغه قدر د خپل مېنځي شخړو په نتیجه کښې پکاروي چې نتیجه ئې په هر لور وشي پاشل وي په دې حقله پوهاند صدیق الله رښتین وائي.

,, د ګوندی او ګوندي مادي نتیجه
کله ښه هم وي کوم وخت چې په یوه
سیمه باندې کوم خارجي طاقت یرغل
راوړي نو پرې وخت کښې هره ګوندي
یعني هره جنبه په میړانه د دشمن
مقابلې ته ودرېږي او په سیالی
سره د قربانی او سرشندنې مېدان
ته وروځي مګر په وطني او او
قومي چارو کښې بیا د تربګنی او
دشمنی رنګ پېدا کوي او د ډېرې
بدې ترې راوځي ،،5

نورالامین یوسفزے د جدید دور لوے نامتو لیکوال دے چې تر دې دمه یې ډېر کتابونه په مختلف موضوعاتو لیکلي دي چې په کښې د افسانې ونډه زیاته په نظر راځي تر دې دمه د موصوف شپږ افسانوي مجموعې چاپ دي چې نومونه یې څه په دا رنګ دي.

۱. لنک روډ
۲. ډېې ونې
۳. د اسونو باچائي
٤. دریمه لار
٥. څادر
٦. د خوږ غاړه

د دوي په افسانو کښې د ژوند هر رنګ په نظر راځي هغوي د خپل پښتون سماج ټول رنګونه او بدرنګی د خپل تاند قلم او ژورې مشاهدې په زور خپل اولس ته وړاندې کړي دي پښتني اقدار

ISSN(**P**): 2709-9636 | ISSN(**O**): 2709-9644
**Volume 7, Issue 1, (Jan to Feb 2026)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2026(7-I)urdu-02

استحصالي قوتونو د ټولني بد کردارونه او خيرن مخونه په ګوته کول د دوي د افسانو په حقله ستر مترقي ليکوال سليم راز وائي.

,,دوستوفسکي د انساني رويو
د ژوند د هلو ځلو د جبر
او استحصال تصويرونه خپلو
ليکونو کښې وړاندې کړي دي
او ورسره ئې د انسان
داخلي منظر کشي هم کړي ده
د نورالامين يوسفزي افساني
هم دغه نکتې لري ،،6

دغه رنګ د نورالامين يوسفزي د افسانو د فن او فکر په حواله اجمل ختټک هم خپل نظر وړاندې کړے دے هغه وائي چې

,, نورالامين يوسفزے د
پښتني ميني او ويني او
ژوند د فن ، شکلا او
ارتقاء نن يو نامتو او
مړنے اديب دے چې د پښتو
ژبې د ځلاند او ښېرازه قلم
خاوند په خصوصي توګه پښتو
ادب کښې ممتاز او منفرد
مقام لري د دۀ افساني د
شخصيت او ادب د اظهار
ګلدسته ده چې د دې خپل
نوي دور د فن او شعور د
اوچت معيار سره د تاريخ ،
ثقافت ، اولسي ژوند او
سماج د استحصالي جبر او
ناوړه طبقاتي معاشري
هنداره ده داسې چې
لوستونکي کښې د انساني
شرافت احساس او زمونږ د
ملي ادب يو خوندناک موثر
پېش رفت دے ،،7

ISSN(**P**): 2709-9636 | ISSN(**O**): 2709-9644
**Volume 7, Issue 1, (Jan to Feb 2026)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2026(7-I)urdu-02
ماخذ تحقیقی مجلہ

لکه څه رنګه چې مونږ اګاهو ذکر اوکړو چې د نورالامین یوسفزي افسانې د ژوند ټول مناظر اوکړو وډه د ځان سره رانغاړلي دي نو دغه رنګ د دوي د افسانو یو جوت اړخ د پښتنې ټولنې سلبي اقدار هم په ګوته کول دي د دوي په افسانو کښې دغه اقدار په مختلف طریقو سره وړاندې کړے شوي دي لکه بدل،سوره ، انتقام او داسې نور ډېر دلته لاندې د هغه افسانو ذکر او لنډه شان خاکه وړاندې کولے شي چې هم د دغه فکر د لاندې تخلیق شوي دي.

**پېغور**

پېغور د پښتون سماج یو داسې قدر دے چې هر څوک ورنه یره کوي او که چرې چا ته پېغور اوشي نو دا د یو پښتون دپاره د مرګ نه زیاته د درد خبره وي په دې وجه پښتانه پېغور نه زغمي او هم د دغې پېغور د لامله اکثر داسې شخړې سروهنه اوکړي چې معامله د مرګ ژوبلې لاره اختیار کړي،، عکس ،، نومې افسانه کښې رامداد هغه کردار دے چې هاشم له پېغور ورکړي او بیا هاشم د هغه نه انتقام اخیستل غواړي په دې افسانه کښې د پېغور د څرک څه داسې په نظر راځي.

,,خو رامدادي نن هغه له یو زوړ
خانداني پېغور هم ورکړے وو
پېغورونه خو هغه دوه درې شه
توده توده ورکړي وو خو د هغه
دغې پېغور د هاشم لړمون سیرلے
وو خبره دا وه چې چرته پخوا د
هغوي مشرانو د هاشم دوي یو
مشر وژلے وو .. .......... خو
نن رامدادي دغه اور بیا تازه
کړو ،،8

دغه رنګ انګار د لنک روږ یو بله افسانه ده چې هم د دغه پېغور قدر په کښې ځائے کړے شوے دے کاکور په کښې د داسې سلبي کردار په توګه

ISSN(**P**): 2709-9636 | ISSN(**O**): 2709-9644
**Volume 7, Issue 1, (Jan to Feb 2026)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2026(7-I)urdu-02

وړانديې کړې شوې دې څوک چې د پېغور لړی دوام داره ساتي او هر وخت په رلا تکونه کوي.

,, هسې هم د کاکور او د لا د
يو بل د سترګو ازغي وو خو په
خېټه موړ وو او د هر چا سره
ئې راشه درشه وو کاکور په
ذات اوچت خو په خېټه نيمګړے
وۀ ځکه به د هغه دا کوشش وو
چې په هر محفل کښې په څه نا
څه شکل د د لا پلار نيکه
اوستائي يا کم از کم هسې د
چا سره په ډکه حجره کښې څه
ملنده اوکړي ،، 9

هم د دغه پېغور د وجې رلا مجبور شي او يوه شپه د کاکور د وژلو په نيت د شپې هغه پسې ارت ته لاړ شي خو ولې دواړه د کوهي په غاړه وي نو ارتاؤ شي او سحر چې خلق پاسي نو دواړه راوتې سترګې پراتۀ وي دلته مونږ کتلے شو چې يو پېغور دوه ځوانی مرګ تر خلې بوتلي.

پېغور نومې افسانه کښې هم دغه قدر په نظر راځي چې په کښې د حېدر يوه خبره په ناست جبار د غلط فهمی له کبله پېغور لګي او تر دې چې هغه په اخره کښې حېدر مړ کړي او د خپلې غلط فهمی احساس ورته وروستو وشي خو ولې بيا اوبه د ورښه تېرې وي هغه خبره چې په جبار بده لګېدلي وي هغه دا وي چې.

,, خلق خپلې ګډې نه شي
سمبالولے نو مونږ به مړز
څنګه قابو کړو ولې که بد
مې اووې دوله ،، 10

کله چې د هغه ملګرے اکبر د هغه نه د حېدر د وژنې وجه معلومول غوښتل نو هغه څه داسې ګويانه شو

ISSN(**P**): 2709-9636 | ISSN(**O**): 2709-9644
**Volume 7, Issue 1, (Jan to Feb 2026)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2026(7-I)urdu-02

„ اکبر نور درته هیڅ نه شم
وئیلے خو دومره پوهه شه چې
هغه ماله پېغور راکړے یو او
ته پوهېږې چې پېغور څومره
لوي کنځل وي ،،11

د پورته اقتباس نه دا خبره هم په ډاګه کېږي چې په پښتنه ټولنه کښې پېغور څه حیثیت لري او د دې زغمل څومره ګران کار وي او د دې پېغور وو چې څومره خلق د مرګ تر خلې ځي او په ټولنه کښې انتشار پېدا کېږي په ژوره کنده کښې هم د پېغور سلبي قدر ته اشاره شوې ده.

**سوره**

د سورې د حیثیت نه ټول پښتانه خبر دي چې دا څه ته وائي او د هغه جینی چې د ورور د بدو دلاسه مقابل دشمن ته ورکړے شي د هغې ژوند څنګه وي په پښتون کلچر کښې دا قدر ډېر بد دے اګر که تخلیق شوے د ښې دپاره وو خو ولې رنګ ئې بد اخستے دے د نورالامین یوسفزي په افسانو کښې دا سلبي قدر هم ډېر په مهارت سره ښائے کړے شوے دے„ د ادم څوي ،، نومې افسانه کښې دا قدر لوستونکو ته وړاندې کړے شوے دے کله چې د دربان نه د یوې بندیوانې د ګناه په حقله تپوس وشي نو هغه داسې ګویانه شي

„ او د دې خوا کښې چې دا سر
وهلي بر وهلي جینی وینې دا
په سوره کښې ورکړے شوې ده خو
د دشمن د کور د ژبې چړې
پریوانه وهل ټکول اونه شو
زغملے نو راوتښتېده خو دا
ورور کورته پرې نه ښوده ځکه
چې بیا د شر امکان وو دومره
ئې اووهله چې دا لېونی شوه
او دا دے وس زمونږ د زندان
برخه ده ،،12

ISSN(**P**): 2709-9636 | ISSN(**O**): 2709-9644
**Volume 7, Issue 1, (Jan to Feb 2026)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2026(7-I)urdu-02
ماخذ تحقیقی مجلہ

دي سره سره که مونږ يو خوا سوره کښي جينى ورکول ظلم دے نو بل خوا د لور خور نه د رشتي کولو په وخت د هغې خوښه او رضا نه تپوس نه کول لوے ظلم دے چې په پښتون سماج کښي رواج لري د ادم ځوي نومي افسانه کښي دي پله هم اشاره شوې ده.

بېتکى نومي افسانه هم په دغه تناظر کښي ليکلے شوې ده چې په کښي جينى د خپل مزاج مطابق هلک ته ورنۀ کړے شي او رشته ئې بل چا سره وشي د هغې د وجې هغه د مرګ تر خلې لاړه شي او دا راز د يو خط په ذريعه دا ښکاره شي چې هغه دا دے.

„ خالده دا خط به درله ذرو ترور
زما د مرګ په دريمه درکړي او بس
دومره پوهه شه چې
په تور لحد کښې به نعرې کړه
زه د دنيا نه ارماني راغلې
يمه،،13

دغه رنګ ائيډيل افسانه کښي هم د جينى د مرضى نه بغېر د يو جاهل هلک سره د هغې واده اوکړے شي او دومره ظلم ورسره اوکړي چې د مور جوړيدو قابله پاتې نه شي ځکه چې د ناجوړتيا په حالت کښي هم د غريبي نصيب کښي وهل ټکول وي او بيا چې کله هغوي ته پته اولګي چې وس دا اولاد نه شي راوړے نو طلاق ورکړي د کوم له وجې چې د هغې د واده د نوم نه نفرت شي.

**بدل**

بدل د پښتون سماج يو بل ناوياته عمل دے چې اکثر په کښي نسلونو ختم شي او دغه رنګ په پښتنه ټولنه کښي دا انتشار د يو نسل نه بل نسل ته منتقل کېږي اکثر پښتانه په بدل اخستو کښي د تجاوز نه کار واخلي چې يو بد فعل دے او نرى د تذبذب ښکار کوي که څوک د خپل مړي بدل د خپل مقابل دشمن څخه وانه خلي نو په پښتنه ټولنه کښي ورته سپک کتلے شي او پچموزي ورپسي

ISSN(**P**): 2709-9636 | ISSN(**O**): 2709-9644
**Volume 7, Issue 1, (Jan to Feb 2026)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2026(7-I)urdu-02



کوي چې دا مردان نه دي یا دوي وېرېږي اګر چې قرآن وائي چې که تاسو خپل دښمن معاف کړئ نو دا غوره ده ولې پښتون خپل بدل په هیڅ شان نه معاف کوي.

نورالامین یوسفزي په خپلو افسانو کښې د پښتونولی دې سلبي قدر ته ډېر ځائے ورکړے دے او په ډېره اوستکارۍ سره ئې د دې زیان په ګوته کړے دے.

عکس نومي افسانه کښې هم د بدل او انتقام تت غوندې عکس په نظر راځي.

تورتمونه نومي افسانه خالص په دغه قدر تخلیق شوې ده او ملک صېب په کښې د هغه کردار په توګه وړاندې شوے دے چې د دغه قدر ساندویه دي او د بدل او انتقام په اور کښې داسې سوزي چې د دښمن په ځائے د راکټ په مدد سره هغه ځوي مړ کړي څوک چې د بدل نه اخستلو په حق کښې وي او دغسې د خپل انتقام تندۀ سره کړي راکټ سره د اجرت په وخت راکټ خبر شي چې فلک د دښمن په ځائے د ځوي سر خورول غواړي نو هغه ورته وائي.

,, ملکه دا خو د خر په ځائے
کلال داغل دي نو راکټه دا
خبرې پرېږده زما تنده سره
کړه زۀ ډېر زر بدل اغستل
غواړم او دا کار وس د دې
ځائے نه دے ،،14

د دې اقتباس نه دا اندازه کېږي چې پښتون خپل بدل په هر شان سره اخستل غواړي لکه ملک صېب د دښمن په ځائے خپل ځوي وژني خو چې دومره تنده ئې سړه شي.

درنګ یوه بله افسانچه ده چې په دې قدر باندې لیکلے شوې ده هغه بدل ده په بدل نومي افسانه کښې دا ښودلے شوي دي چې د پښتون وړومبے هدف د غلیم نه انتقام دے او چې تر څو ئې دا انتقام نه وي اخستے نو په قلاره نه کېني دا افسانه د خپل ارزښت د وجې وړاندې کوم

ماخذ تحقیقی مجلہ
ISSN(P): 2709-9636 | ISSN(O): 2709-9644
Volume 7, Issue 1, (Jan to Feb 2026)
https://doi.org/10.47205/makhz.2026(7-I)urdu-02

,,هغه چې د ولایت نه په
بیالوجی کښې د ایم ایس ډګري
واخسته او وطن ته راستون
کېدو نو یو ملګري ترې پوښتنه
وکړه چې د مستقبل منصوبه
بندي دې څه کړې ده په وطن
کښې راله تربورانو په پتې
ورور وژلے دے اول به د هغه
بدل اخلم نو بیا به د هغه
بدل اخلم نو بیا به وروستو
ګورو هغه ډېر په عادي لهجه
کښې جواب ورکړو، 15

د دې افسانې نه اندازه کېږي چې پښتون بدل اخستو ته څومره لېواله وي او د هر کار نه اول هم دغه کار ګڼي په دې افسانه کښې دا خبره هم په ګوته شوې ده چې که هر څو پښتانه د جدیدو علومو سره اشنا شوي دي خو ولې خپل فرسوده رواج نه سرغړونه نۀ کوي او هم دا د دوي د ناکامۍ وجه ده.

په پښتنه ټولنه کښې د ملک او خان کردار هم داسې دے چې اکثر سلبي وي او د خان په غم کښې ګرځي د قام په سود او زیان ئې هیڅ کار نه وي او زمونږ د ټولنې مزاج هم دا دے که د دغه خان یا ملک دروغ وائي نو هم خلقو ته رښتیا لګي ځکه چې رتبه کښې اوچت وي.

غل نومې افسانه کښې په دې هکله ښه منظر کشي شوې ده چې یو بد کردار او جنسي درنده خان یو هلک ته وائي چې په خله لاس کېده ګڼي په تا څوک باور نه کوي او زما په خله ټول خلق یقین کوي.

,, اے ګوره خانه! ستا خېر په
دې کښې دے چې پړده شي ګڼي د
غل اواز دربانډي کوم ستا به
هیڅوک اونۀ مني ولې چې ته هم
ځوان زلمے ئې د ریمو لور هم

ISSN(**P**): 2709-9636 | ISSN(**O**): 2709-9644
**Volume 7, Issue 1, (Jan to Feb 2026)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2026(7-I)urdu-02
ماخذ تحقیقی مجلہ

ځوانه جینۍ او ایکي یوازې ده
دا د ړندو کلے دے دلته ځان
ړوند که،، 16

او بیا سبا شه افسانه کښې هم د ملک کردار د یو وحشي شودلے شوے دے څوک چې د خپلې ښځې په غېر موجودګۍ کښې د یوې کم عمره نوکرې سره جنسي زیاتے کوي او په دغه لاره د خپل هوس تنده سړوي.

د وینو ډکه خله نومې افسانه کښې هغه د قامې مشرانو مخونه په ګوته شوي دي چې د جنګ اور ته د خپلو مفادو دپاره لمنې وهي او خپل قام د مرګ په ولقه کښې ورکوي تر دې چې دومره تباهي وشي چې څوک ئې د سمبالښت هم نه وي او په خپلو وینو کښې د دواړو کلو ګلونه ځوانۍ لت پت پرتې وي.

پېراسائیټ نومې افسانه کښې د مرزا کردار د سلبي کردار په توګه وړاندې کړے شوے دے څوک چې د کلي مشر وي خو ولې د خپلو مفادو دپاره د خلقو بده خوښوي او د دوي په روغه جوړه خفه کېږي د مرزا د شېطاني او سلبي کردار اندازه د دې اقتباس نه کېږي.

,, روغه..... نه .. نه روغه
خو په هیڅ شان نۀ دي کېدل
پکار که دا روغه اوشوه نو
ډېره غټه فائده به مې د
ګوتو اوځي.... د اوبو لاندې
ډېرش جیربه پټے او هغه هم
نیم بهاــ.... پوکے ورکوه
مرزا پوکے چې دا اور درنه مړ
نه شي،، 17

احساس، غل، پاس په کمره ولاړه ګله، د اغلي سینه، زهر، پنځه بلاګاني، پېراسائیټ خو هغه افساني دي چې د امرد پرستۍ په سلبي رویه لیکلے شوي دي چې د پښتني تولني په لمن یو نه وړانېدونکے داغ دے.

ISSN(**P**): 2709-9636 | ISSN(**O**): 2709-9644
**Volume 7, Issue 1, (Jan to Feb 2026)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2026(7-I)urdu-02
ماخذ تحقیقی مجلہ

په پښتنه ټولنه کښي اکثر کسب ګرو ته بد کتلے شي اګر که دا رويه اوس د تعليم له وجې ډيره ختمه شوې ده ولې په لاشعوري توګه اوس هم په ځينې وختونو کښي خپل ځان ښکاره کوي او د کلو او قبائلو په سيمه کښي دا ناسور زيات ليدۀ شي او وجه ئې د وګړو جهالت وي .

د وخت پېکړې ، وائي دا ما نه ، بوږ نونکے خوب او بيا سبا شه هغه افسانې دي چې د خانانو او نورو پښتنو هغه روئې په کښي قلم بند شوي دي چې دوئې د کسب ګرو په حقله لري د وخت پېکړې نومي افسانه کښي د يو کلال ځوې چې تعليم وکړي خو ولې د کلي خان په دې وجه بدې شي چې دا خو د يو کلال ځوې دے او په هره خبره کښي ورته هيبت خان چې يو سلبي کردار دے دغه پېغور کوي لکه دا چې.

„ يارانو وس به د کلي کلالان
او جولاګان راځي نو مونږ ته
به د لور خور د پړوني او ننګ
ناموس چل ښائي،18،

د پورته بحث په نتيجه کښي مونږ دا خبره په وثوق سره کولے شو چې نورالامين يوسفزے د جديد دور هغه افسانه نګار دے چې په خپلو افسانو کښي ئې د پښتونولۍ سلبي اقدار په ډېر مهارت سره ځائے کړي دي او د هغې اصلاح يو توان مند کوشش کړے دے.

## حواله جات

١. نورالامين يوسفزے ، پښتون دانش ، اعراف پرنټرز ، پېښور ښار ، سپتمبر ٢٠٢٢ ، مخ ١۴

٢. سحر ګل کتوزے ، پښتو ادب پوهنه ، يونيورسټي پبلشرز پېښور ، ستمبر ٢٠١٨ ، مخ ٣۵۴

ISSN(**P**): 2709-9636 | ISSN(**O**): 2709-9644
**Volume 7, Issue 1, (Jan to Feb 2026)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2026(7-I)urdu-02
ماخذ تحقیقی مجلہ


٣. راج ولي شاه ختک ، روهالوجي ، يونيورستي پبلشرز پېښور ، ٢٠١٣ ، مخ ١٣۶-٣٧

٤. سعيد الله خان ، ايم فل مقاله ، *دھنت رائے پریم چند کے افسانوں میں کرداروں کے جارحانہ اور فنی رویوں کا جائزہ* ، شعبه اردو جامعه پشاور ، سيشن ٢٠١۵ ، ص ۴٩

٥. صديق الله رښتين ، پښتني لارښود ، يونيورستي پبلشرز پېښور ، دويم چاپ ، مخ ۶٨

٦. نورالامين يوسفزے ، پښتون دانش ،ډډي ونې سريزه ،جنوري ١٩٩۶ء مخ ١١

٧. نورالامين يوسفزے ،اجمل ختک سريزه ، دا قيصي دا افسانې ، کتاب کور پېښور ، اپريل ٢٠٢۵ ، د کتاب شا مخ

٨. هم دغه اثر ، مخ ۶۵

٩. هم دغه اثر ، مخ ٧٩

١٠. هم دغه اثر ، مخ ١٠٨

١١. هم دغه اثر ، مخ ١١٠-١١

١٢. هم دغه اثر ، مخ ٢۵۴

١٣. هم دغه اثر ، مخ ٣٨٠

١٤. هم دغه اثر ، مخ ٧٠

١٥. هم دغه اثر ، مخ ۶١۵

١٦. هم دغه اثر ، مخ ١٣۶-٣٧

١٧. هم دغه اثر ، مخ ٢٩۶

١٨. هم دغه اثر ، مخ ١۶٨